AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۰۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (اووهٔ ویشتمه برخه)

## الحاج ملا فیض محمد

د محمد سعید زوی چې هزاره دئ په ۱۸۶۱ز کال کې زېږېدلی دئ. لومړی ئې خصوصي زده کړې وکړې او بیا فارس او هندوستان ته د تحصیل لپاره لاړ. په ۱۸۸۸ز کال کې کابل ته راستون سو او عربي علوم ئې ولوستل. په ۱۸۹۳ز کال کې د امیر حبیب الله په خدمت کې شامل سو چې کتابونه ئې کاپي او اصلاح کول، او د سراج التواریخ دوه ټوکیز کتاب ئې ولیکهٔ. دریم ټوک ئې د ۱۹۱۱ او ۱۹۱۵ز کلونو تر منځ ولیکهٔ. د څلورم ټوک مسوده ئې ویل کېږي چې ملي آرشیف په ۱۹۷۸ز کال کې د هغهٔ له زوی څخه پېرودلې دئ. د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال ئې د حبیبیې په لیسې کې تدریس کاوهٔ. ویل کېږي چې ملا فیض محمد (د افغانستان د معاصر تأریخ) [1] د «پردې تر شا» [2] یو لیکوال وو چې په پاړسي ژبې لیکل سوی دئ او په ایران (فارس – ژ) کې د محمود فرخ [3] له خوا چاپ سوی دئ؛ محمود فرخ له ۱۹۲۷ تر ۱۹۳۰ز کال پورې په کابل کې یو فارسي دیپلومات وو. حبیب الله کلکاني دی ولېږهٔ چې د هزاره ګانو ملاتړ ورته راخپل کړي خو دهٔ ورته وویل چې پاخون وکړئ. ویل کېږي چې امیر حبیب الله کلکاني ډېر سخت وهلی وو او په ۱۹۳۱ز کال کې وفات سو. (د ۱۳۴۹ قمري کال د روژې ۱۶)

## جنرال فیض محمد

د لوګر د یوهٔ مشر حاجي نواب خان زوی، د لوګر په کلنګار کې زېږېدلی دئ. دی لومړی د حبیب الله کلکاني ملاتړی وو، وروسته د نادر خان پلوی سو چې ورسره کابل ته راغی او د افتخاري جنرالۍ یا اعزازي فرقه مشرۍ رتبه ئې ورته ورکړه. د پکتیا والي او د یو شمېر پوځي ګارنیزیونونو بولندوی او د ۲۰ کالو لپاره د کورنیو چارو په وزارت کې د وسله واک ځواک یو جنرال. درې ورونهٔ ئې نصرالله «د غزني والي»؛ ډګروال عبدالعزیز، او عبدالستار د هوایي ځواک یو جنرال وو چې د غوایي د پاخون په لړ کې ووژل سو.

---

[1] - Afghanistan's Contemporary History

[2] ghost writer- : په انګلیسي ادبیاتو کې د پردې تر شا لیکوال معمولاً هغه کسان وي چې د استخباراتي موخو لپاره استخدام او هغوی ته لیکنې کوي. - ژ

[3] -Mahmud Farrokh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډګرمن فیض محمد

په ۱۹۴۰ز کال کې د پکتیا په وزیرستان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د خوشحال خان له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. خپل لوړ تحصیلات ئې د حربي پوهنتون د پلي ځواک په پوهنځي کې پیل کړل. په ۱۹۶۳ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سو. خپل پوځي خدمات ئې په افغان وسله وال ځواک کې د دوهم بریدمن په رتبې پیل کړل. په ۱۹۶۶ز کال کې ئې لومړي بریدمن ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۶۹ز کال کې ئې د تورن رتبې ته ترفیع وکړه. له ۱۹۶۹ز کال راوروسته ئې د یونیم کال لپاره په شوروي اتحاد کې د کوماندو د روزني په برخه کې تحصیلات وکړل او ویل کېږي چې یو پرچمی ورڅخه جوړ سو. د ۱۹۷۳ز کال په کودتا کې ئې ګډون وکړ. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د جګړن رتبې ته ترفیع وکړه. په ۱۹۷۳ز کال کې د کورنیو چارو په وزارت کې وو. په ۱۹۷۴ز کال کې ئې د ډګروالی رتبې ته ارتقاء وکړه او په ۱۹۷۵ز کال کې د سرحداتو د چارو وزیر مقرر سو. په ۱۹۷۷ز کال کې ځکه چې ولسمشر داؤود یو شمېر پرچمیان ورټل، فیض محمد په جاکارتا کې سفیر مقرر سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې د عراق بغداد کې د افغانستان سفیر وګومارل سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری د میاشتي په ۱۱ نېټي د قومونو او قبائیلو د چارو د وزیر په توګه وګومارل سو. د انقلابي شوری او د مرکزي کمیټي غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د مجاهدینو په وسیلي ووژل سو. د جلیل ابوي له لور سره ئې واده کړی دی. *

**سردار فیض محمد** : وګوری : زکریا

## مولوي فیضاني

د هرات بومي اوسېدونکی. واعظ او سیاسي ملا چې ویل کېږي د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې ئې کمونیست ضد ډلې او ځواکونه په خوځښت راوستل. ځوځ ځله د لنډ مهال لپاره نیول سوی دئ. په ۱۹۷۳ز کال کې له سیاف او نیازي سره یو ځای ونیول سول او تر ۱۹۷۸ز کال پورې د پلچرخي په زندان کې وساتل سول او د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال اعدام سو. [4]

## حاجي سعد الدین فیضي

د فیضان الدین معمار زوی په ۱۹۲۴ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. په بېلابېلو حکومتي څانګو کې ئې کار کړی دی. شاعر او لیکوال.

**فیضي** : وګوری : سردار فیض محمد زکریا

[4] - عبدالرسول سیاف چې وروسته ئې خپل نوم استاد عبدالرب رسول سیاف ته بدل کړل د پغمان د ولسوالۍ د قاضي خیلو د کلي اوسېدونکی، د شرعیاتو د پوهنځي پخوانی استاد او د اتحاد اسلامي د تنظیم جهادي مشر دئ. کله چې د هالند پولیسو د ۵۰۰۰ تنو اعدامیانو لیست خپور کړ ما ژباړونکي دغه لیست له سره په ایکسل کې ټایپ کړ چې د افغان جرمن آنلاین په پورتال کې خپور سو تر څو د شهیدانو ورثه د خپل شهید نوم په آسانۍ سره ومونډلی سي. په دغه لیست کې د استاد سیاف نوم په غالب ګومان ۱۵۵۵تن وو چې وژل سوی ښودل سوی وو. دا چې استاد سیاف څنګه ژوندی ووت د ګنګوسو او حدسیاتو له مخې دلیل ئې د حفیظ الله امین مشهور په وکیل د پغمان او د خلقیانو د مهال ولسمشر له کورنۍ سره د هغـهٔ نـېږدې قرابت وو او ویل کېږي چې د امین په دستور ژوندی پاتی سو. او د ۱۹۸۰ز په عمومي عفو کې له زندانه خوشې سو. والله اعلم. – ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

## محمد جان فنا

د تورن جنرال سعدالله ‹صافي› زوی، په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د کابل د تجارت له لیسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې پوځي اکاډیمۍ کې شامل سو. په ۱۹۵۳ز کال کې د سلطنتي ګارډ افسر او په ۱۹۵۵ز کال کې د صدراعظم ګارډ. د جګړن رتبې ته ئې ترفیع وکړه. په ۱۹۶۶ او په ۱۹۷۰ز کال کې ئې د امریکا له متحده ایالاتو څخه لیدنه وکړه. شاعر او لیکوال چې لومړی داستان ئې په ۱۹۵۶ز کال کې د انیس په ورځپاڼې کې خپور سو. آثار ئې : ۱۹۵۹ ‹فریادي شاعر› پښتو اثر او د ‹شاعر پسرلی› پښتو اثر ۱۹۶۱ز کال. ګڼ شمېر لیکنې ئې په پښتو او دري دي چې په ورځپاڼو او ژورنالونو کې خپرې سوې دي. د نوموړي یو شمېر لیکنې انګلیسي ته ژباړل سوي او د امریکا په متحده ایالاتو کې چاپ سوي دي. په ۱۹۵۹ز کال کې ئې په پښتو او دري کې د افغان مطبوعاتو ادبي جایزه وګټله. په ۱۹۷۸ز کال کې ونیول سو او ووژل سو.

## استاد فقیر حسن

پلار ئې ورته د موسیقۍ روزنه ورکړه. له راډیو کابل سره ئې د راډیو له بنسټ ایښودلو څخه کار وکړ. نامتو موسیقي پوه. په ۷۱ کلنۍ کې د زړهٔ د حملې له کبله وفات سو.

## محمد فقیر فقیر

یو خلقي فعال. په ۱۹۷۸ز کال کې د نور محمد تره کي خصوصي سکرتر. د ۱۹۷۹ز کال د آګست په میاشت کې د کورنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. د ۱۹۷۹ز کال په اکتوبر کې د کورنیو چارو وزیر. د حفیظ الله امین تینګ ملاتړی. له ۱۹۸۰ز کال را وروسته زندان ته واچول سو.

## محمد یعقوب فراهي

د محمد زوی په ۱۸۶۷ز کال کې په فراه کې زېږېدلی دئ. شخصي زده کړې ئې کړي دي. هرات ته لاړ چې ‹عربي علوم› زده کړي. د سردار نصرالله خان په غوښتنې کابل ته راغی او په دربار کې په ‹مصاحبانِ علمي› کې شامل سو. فراه ته له بېرته ستنېدلو وروسته بېلابېلي دندې ئې پر مخ بوړلي. په پارسي، تورکي او عربي کې ئې څېړنې کړي دي. په ۱۹۳۵ز کال کې وفات سو. شاعر.

## محمد یوسف فَـرَند

په ۱۹۳۰ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې له دارالعملمینو او په ۱۹۵۵ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې د پیتسبرو په پوهنتون کې خپله ماستري په اقتصادي پرمختګ کې اخیستې ده. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د صدراعظم په دفتر کې مأمور. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د پلان په وزارت کې د څېړنې په څانګې کې د تولنیزو خدماتو مدیر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د احصائیوي تحلیل عمومي مدیر. د پلان د وزارت د شخصي پانګې اچونې د دیپارتمنت عمومي مدیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې پولند ته د روزنې لپاره لاړ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د پلان دوزارت د احصائیې د ریاست رئیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د ‹روزګار› ناشر او محرر. د ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کانونو او صنایعو د وزارت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مرستیال وزیر. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې سلاکار. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د افغان نساجي د مشورتي بورډ رئیس. د ۱۹۸۱ز کال د اکتوبر په میاشت کې پاکستان ته کډه سو او وروسته د امریکا متحده ایالاتو ته راغی.

## نور بیا

### نور جهان فاراني

په ۱۹۴۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. په ۱۹۶۴ز کال کې...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ